داکتر عبدالحی نیازی

۲۰۰۸/۰۲/۲۵م

# د ملی ترمنالوژی په وړاندې تربګني

د افغانستان په پخواني اساسي قانون کې پښتو د افغانستان دملي اورسمي ژبه توګه اودرې د افغانستان د رسمي ژبه په توګه منلي شوې وې . د افغانستان له پخواني اساسي قانون سره سم پښتو ژبې ملي امتيازترلاسه کړی وو چې د هغه امتياز پراساس بايد د افغانستان د دولتي ادارو لوحې يا سرليکونه ، د افغانستان دملي اردو پوځي رتبې ، د پولس د اکاديمۍ د افسرانو رتبې، د افغانستان د پوهنتون د استادانوعلمي رتبې،ملي سرود، د ښوونيز او روزنيزو ټولنو سرليکونه، د څارندوی او پالندوی ټولنې نوم او رتبې، د سره مياشت ټولنه ، د دولت د مدافع وکيل اداري سيستم يا څارنوال ، ستره محمکه ، د ولس د استازو د جرګو نوم (ولسي جرګه او مشرانو جرګه) نومونه به پښتو وي.
په همدغه دوران کې ګڼ شميرنورپښتواصطلاحات منځته راغلل اوپه پښتو او دري ژبوکې يوشان،بې له دې چې وژباړل شي استعماليدلې.
د پښتو ژبې د دغو امتيازاتو په وړاندې د دري ژبې لوی امتياز دا ؤ چې دري د افغانستان درسمي ژبې په توګه د افغانستان د ټولو دولتي اداراتود مکاتبې او معاملې دفتری ژبه کې وې او تر ننه پورې د افغانستان د دولتي اداراتو رسمي ژبه دري ده خو پښتو ژبه سربيره پر دې چې رسمي ژبه وه او ده ، خو پښتو ژبه د عمل په ډګر کې د افغانستان په رسمي دوايرو کې ترننه پورې عملاً نه کارول کيږي خو پښتنوله زغمه کار اخلی يا په بله ژبه د خپلې ژبې په وړاندې يې دبې همتۍ اوبې غورۍ څخه کارواخلی اوکه اوس پښتو ژبې ته څوک پام وکړي د متعصب او فاشسست به نامه پژندل کيږی.
د افغانستان په اوسني اساسي قانون کې پښتو،دري رسمی ژبې او ازبکی بلوچې...د سيمه ييزو رسمي ژبو په توګه منلي شوې دي.
د افغانستان د اساسي قانون پراساس پښتو نور د افغانستان يوازينۍ ملي ژبه نه ده. پښتو ژبه د پښتنو د سترګو په وړاندې د ملي توب امتيازوبايله مګر دري ژبه تراوسه پورې دغه امتيازلري اود افغانستان د دولتی چارو يوازينۍ دفتری رسمي ژبه ده.که څه هم پښتو د افغانستان رسمی ژبه خو د فتری ژبه نه ده ولې؟
د اساسی قانون په لويه جرګه کې د افغانستان پښتنوپه ډيرمتانت اوزړورتيا د زغم او تحمل څخه کار واخيست اود رهزو د جام داغوړپ يې وڅښه چې پښتودې نورد افغانستان ملي ژبه نه وي ځکه چې د افغانستان پښتانه له هرلوري ،هم په داخل کې اوهم د بهرنيانوله لوري ځپل کيږی.
د افغانستان په اوسني اساسي قانون کې په څرګند ډول بيان شوي چې ملي ترمينالوژي بايد په خپل اوسني شکل وي اوڅوک يې داړولوهڅه ونه کړي خو نن يوشمير دري ژبې ټرون ماتوي او په څرګند ډول پښتنو ته چلنج ورکوي او اساسي قانون ترپښو لاندې کوي او ادعا کوي چې دري يا فارسي قدامت لري، دې کې شک نشته چې فارسی ژبه له دفتري نظره قدامت لري خوافعان دولت د افغانستان د اساسي قانون په وړاندې ژمنتيا لري چې ملي ترمينالوژي وساتي.
دا افراطيان چې اساسي قانون نه مني او ملي ټرون په ډاګه ماتوي د پردې ترشا يوشميرکورنۍ او بهرني لاس وهنې اوتحريکات شته يعنې تحليلوی چې نن پښتانه د ديورند په دواړو غاړو کې د ترووريزم ترنامه په نړيواله سطحه ځپل کيږي او نوردا توان نه لري چې له خپلو کلتوري شتمنيو څخه د فاع وکړی.
له بلې خواعربي افراطيونو په ډيره ناځوان مردانه توګه د خپلو سياسي اهدافو لپاره د اسلام ترنامه لاندې د پښتنوسيمې د امريکا په وړاندې د جګړوميدان ګرځولي دي او د پښتنو وينې په هرلورتويږي. له بده مرغه عوام پښتانه دومره ذهني توانايي نه لري چې د دې کرغيړنې جګړې په ماهيت باندې پوه شي چې دا زموږ جګړه نه ده او دا دعربو او امريکا جګړه د پښتنو په خاوره کې ده.
په افغانستان کې پښتنوهيڅکله هڅه نه ده کړې چې دري ژبې د افغانستان له سياسی يا کلتوري ډګر څخه وباسي مګرپه ۱۹۹۲ ميلادي کال کې د جبل السراج او مزارشريف په ټرونوکې د نظارشورا ، وحدت ګوند ، د دوستم ملی



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

جنبش، ستمیانو، یوشمیرپرچمیانو اود ایران استخباراتو په ډاګه هڅه وکړه چې په افغانستان کې پښتانه له سیاسي واک څخه بې برخه کړي خو دا کارپه افغانستان کې ناشونی کار دی.
د افغان مجاهدینوله بری سره سم د وحدت ګوند مشرعبدالعلی مزاری په کابل کې اعلان وکړچې موږ دپښتنودوه سوه پنځوس کلن حکومت ته ماته ورکړه په داسې حال کې چې دنجیب حکومت نسکوریدل د افغان مجاهدینو د بري ورځ کڼل کیږي.
د ملي ترمینالوژۍ یا د پښتوترمینالوژۍ مسئله په اساسي قانون کې درج شوې مسله ده او دهغې د ختمولولاره په دښمنیواوتربګنیو او مظاهرو کې نه حل کیږي اونه دري ژبه په دغه پښتو اصطلاحاتو ضعیفیګیږی.
د حل لاره دا ده چې دا مسله یوې ریښتینې ولسي جرګې ته په مناسب وخت وړاندې شي ځکه چې دا مسله منل شوې ده او اساسی قانون په لویه جرګه کې ملی ترمنالوژي منلې ده چې باید په پښتو او دري ژبو کې یو شان استعماله شي.
تر څو چې یو ځل بیا دا مسله ولسی جرګې ته وړاندې کیږی ښه به دا وي چې په خپل حال پاته شي.
زما د اټکل په اساس دا ناشونې ده چې په ولسي جرګه کې پښتانه په افغانستان کې له خپلې پښتو ملي ترمنالوژۍ څخه تیرشي. د اطلاعاتواو کلتور وزیر یوازې اساسي قانون عملي کړی دی خو ستونزه دا ده چې یو شمیر دري ژبې دا ملي ترمنالوژي اوس زعملی نشي او د هغه په وړاندې کرکه او تربګنی ښیی او په افغانستان کې پښتانه ته مخامخ چنج ورکوي چې دا معقوله پایلې نه لري او په افغانستان کې د ملت جوړونې بهیر د خنډ سره مخامخ کوي.

په درښښت



*افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید*
maqalat@afghan-german.de